ليکوال: هدايت الله هدايت تاريخ ۲۹/۰۵/۲۰۰۸

# دلوړي او ګرانۍ پر سر جګړه

د سږ ميلادي کال د شروع څخه بيا تر اوسه پوري په ټوله نړۍ کې د خوراکي موادو نرخ په بېساري توګه لوړ سوی او وضعه داسي لوري ته روانه ده چې داسي نه ليدل کيږي څوک دي په اساني سره هغه مهارکړي . د نړۍ په زياتره سيمو کې د مرکزي امريکا څخه را نيولي بيا تر افريقا او آسيا پوري د وږو او ناتوانه خلکو لخوا چې د عادي ورځني خوراکي موادو د رانيولو وس يې دلاسه وتلی دی د انساني خښم يوه لويه څپه را پارولې او پراخ اعتراضونه يې را پورته کړي دي . د کارائيب په هائيتي کې خښمېدلي پرګنې دجمهوري رياست پر ماڼۍ باندي ور ودانګله، په بنګله دېش کې د نساجۍ شل زره کارګر و بازارو ته را ووتل او د پوليسو سره لاس او ګرواېوان سوه. د جنوبي افريقا د پولاکاوا په ښارکې په زرګونو تنو د ډوډۍ د نشتوالي پر سر مظاهرې وکړې ، په مصر ، موريتانيا، مورنبيق او سينيګال کې د لوړي پر سر بلواوي وسوې ، په ازبکستان، يمن، بوليويا اندونيزيا، اردن، مراکش، نايجريا، مکسيکو او ... د خوراکي موادو د ګرانۍ او لوړي پر سر د خلکو خښم لويه مرګ ژوبله را مينځ ته کړه . د ملګرو ملتو دسازمان د چارواکو په وينا ۳۷ هيوادونه چې دهغو له جملې نه ۲۱ يې افريقايي هيوادونه دي په دغه بحران کې ښکېل او همدا اوس د لوړي، ګرانۍ او د ډوډۍ د نشتوالي پر سر د بلواو او سياسي بې ثباتيوسره مخامخ دي . په ملګرو ملتو کې دغذايي سازمان رئيسه، مېرمن جوزت شيران د وږو د راپاڅېدو په هکله ويلي دي چې موږاوس په نړۍ کې دلوړي نوې څهره وينو، موږ د تاريخ د هرې زمانې نه زياته لوږه په ښارو کې وينو، موږ يې دسر په سترګو وينو چې په مغازو کې خوراکي مواد سته خو خلک يې د رانيولو توان نلري.

دغه ټول داسي نه دي چې ګني يوه خبري تېروتنه دي وي، دغه پديده يو ژوندی واقعيت دی چې د سرمايه داري نظام په دغه روان يکړ دوران کې يې بېړنۍ وده درلودلې او يوه پوره حساب سوې لاره يې وهلې ده . د ګارډين ورځپاڼي د جهاني بانک د قوله ليکي چې د خوراکي موادو نرخ ددرو کالو په اوږدو کې په سلو کې تر اتيا زيات جګ سوی دی . د ګرانۍ دغه لړۍ لا زياتره هغه مواد متأثره کړي دي چې دغريبو او د ټولني د پراخو زحمتکښو پرګنو خواړه دي . مثلاً د وريجو بيه د تېر کال څخه بيا تراوسه پوري دوه چنده زياته سوې او غنم په سلو کې ۱۳۰ لوړ سوي دي . مخکې کارپوهانو په جدي توګه په دې هکله د خطر زنګ را پورته کړی وو او ويلي يې وه چې د ارزانۍ وخت نور تيرسوی دی ، ګراني را روانه او هغه به لږ تر لږه تر يوې لسيزي پوري ثابته پاتې سي . خو دغه شاني اخطارو ته پاملرنه نه کېدل او د هغه پر سر به د نړۍ لويو انحصاري رسنيوسرپوښ ايښاوه.

مسلماً په پورتنيو هيوادو کې که دغه اعتراضونه په سوله ائزه توګه تر سره سوي وای نو د اخبارو په لومړيو مخو او دخبروپه سرخط کې نه راتلل ،واکمنوبه د غله دانو او غذايي موادو د ګرانۍ بحران ته د يوه عادي ګزارش په توګه په يو کنج کې ځای ورکاوه . خو اوس چې خبره غړکه سوېده .، نړۍ وال بانک او دپيسو نړۍ وال صندوق چې د نړۍ دوه قدرتمنده اقتصادي نهادونه دي ناچاره سوه په خپله کلنۍ ګډه غو نډه کې چې تيره مياشت (اپريل) په واشنګټن کې جوړه سوه، وضعه خورا جدي وښئي او د عواقبو په هکله يې اخطار ورکړي . هغوی انديښمن دي ! چې د خوراکي موادو دبيي لوړتيا به د سلګونو زرو انسانانو د مرګ په بيه تمام سي .همدا اوس په نړۍ کې ات نيم سوه ميليونه انسانان د مطلقي لوړي سره مخامخ دي او هره ورځ په سلهاوو تنه مري . اقتصادي سازمانونه اټکل کوی چې دغه تازه بحران به سل ميليونه نور انسانان د فقر و کندي ته ور شوه کړي . نړۍ وال بانک په عاجله توګه و اړو هيوادو ته د پنځه سوه ميليونو ډالرو دراټولېدو غوښتنه کړېده . دغه بانک اوس غواړي په دې پيسو داسي يو مشکل حل کړي چې پخپله يې رامينځته کړی دی.

که څه هم دمرستو دغه شاني غوښتنه په دغه شاني يو بحراني حالت کې به ښايي يو اهم کار وي ،خو دا په اوبوکې پر لوټه باندي د تېرېدو په معنی ده ،دستونزي اوږد مهاله او اساسي چاره نسي کولای . دبلي خوا داشاني ظاهري غوښتني په کراتو دملګرو ملتو د سازمان او د دولتو د رئيسانولخواتر سره سوي دي خو هيڅيا پر خپلو وعدو عمل نه دی کړی. په نړۍ کې اوس اوس داقتصادي مرستو سياست رنګ بدل کړی دی . دکريسټين نومي يوې انګليسي مرستندويه سازمان په خپل وروستي ګزارش کې ويلي دي ، هغه اقتصادي بودجې چې ترټولو لويه برخه يې بايد د فقر سره د مبارزې او د فقيرو هيوادو سره د بېوزلۍ د مينځه وړلو په لاره کې مصرف سوې وای، نو په ځينو


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

هیوادو کې دهغې یوه یا ټوله برخه د تروریزم سره د مبارزې دپاره وقف سوېده . ددې خبرې مانا داده چې ددې وروسته به د مخکښې پلان سره سم و دې هیوادو ته به داسې مرستې چې د عامو خلکو دائیمي پرده په وسې ورنکول سي . دبلې خوا هغه خطر چې د سپټامبر د یولسمې نه را وروسته د پرمختللو ټولنو ثبات یې د تهدید سره مخامخ کړی وو، اوس هغه خطر په داسې یوه ساړه باد باندې اوښتی دی چې ددې خاورینې ګړې ببوزله ولسونه او ټولنې دیوه سره لړزوي . مرستندویه هیوادونه اوس د غریبو هیوادو د لومړنیو اړتیاو په تهیه کولوکې پاتې ندي راغلي بلکه سمدم پر هغه باندې تله تیروي او د اقتصادې مرستو په عوض کې خپله ټوله سرمایه د خپلو ګټو د ساتلو او د هغه د ډیرولو دپاره په کار اچوي.

**ددې بحران ځیني علتونه**

د خوراکي موادو کمبوداو د هغوی د نرخ لوړتیا بېلابېل اړخونه او علتونه لري چې په ظاهره یو دبل سره ورته والی نلري ، خو په بطن کې ټوله په ځینځري ډول یو په بل کې سره پېیلي دي . د نړۍ وال بانک د رئیس او د پیسو په نړۍ وال صندوق کې د نوموړي همکاران داسې فکر نه کوي چې دغه بحران دې ګنې د اوسني سیستم زېږنده وي . ددې ښاغلو په ګمان داشاني بحرانونه ځکه مینځته راځي چې لاتراوسه هرڅه " په نړۍ وال آزاد بازار کې" د دوی په خوښه پرمخ نه ځي . په همدې خاطر ناری وهي چې نوښتګرانه او ابتکاري ګامونه باید واخیستل سي ترڅو خطا کاري ونسي . د دوی له نظره که پر غذایي موادو دولتي کمکونه تر سره سي یا که پر صادراتو ګمرکي مالیات لړشاني زیات سي او یا که نرخونه ددولت لخوا وټاکل سي ، نو دا یوه لویه خطا کاري ګڼل کیږي .
په واقعیت کې داټول دداسې یوه نظامه څخه سر راباسي چې د ډیموکراسی په نامه وطنونه لاندې کوي،دولتونه یې را چپه کوي ،زېړمې یې ځنې وړي ،خو و وړو ته یې خواړه نسې برابرولای، د هغوی نسونه نسې مړولای ، هغوی ته کار نسې پیداکولای خو کله چې خبره د ترقۍ، او پرمختیا راسې نو بیا دپړداګ پاتې هیوادو په استازیتوب داسې ارقام وړاندې کوي چې څوک هېښ ورته پاتې کیږي . دغه نظام په خپلو معاملو او دلالیو کې واقعاً جادو کوي او ان کولای سي جګړې، بغاوتونه ،مرضونه، سیلابونه، زلزلې، وچکالی... او اوس تر هر څه نه زیات لوږه او قحطي دځان دپاره په طلایي سکو باندې واړوي او هغه بیا دخپلوسرمایه دارانو و بانکې حسابو ته ور شوه کړي . په دې کرغېړن او بدنامه نظام کې اقتصاد د قدرت پر قاعدې اود سود پر منطق ولاړدی او و بل هیڅ انساني او اخلاقي نورم ته د مکلفیت احساس نکوي . کله چې امریکا او اروپا فکر وکړي باید خپله وابستګي د تیلو پر تولید کوونکو هیوادو باندې کمه کړي نو د غیر فسیلي دانو د کښت څخه چې د تیلو پرځای د سوخت د موادو په شکل کارېدای سي، ملاتړکوي . هغوی په دې کې ری نه وهي چې دا کاربه عملاً و انسانانو ته د غذا دلومړنیو موادو پر تولیداتو باندې ناوړه اثر وکړي او هغه به کم کړي، او کله چې مواد کم او تقا ضا ډېره وي نوکمبود خو خودبخوده د نرخود لوړېدو باعث ګرځي . همدا وجه ده چې د رقابت په بازار کې یعنې په هغه ځای کې چې نرخونه پخپل سر ټاکل کیږي، نو هرڅوک دا کوښښ کوي چې هغه مدام د خپلې خوښې پر مرام سره لوړ ولاړسي ترڅو ګټه یې ډیره سي . په اوسني سیستم کې د "آزاد تجارت" معنی بس ده همدا.

دبلې خوا د امریکا دلویې غوښتنې او اشغالګرانه نړۍ وال سیاست په نتیجه کې د مینځنې ختیځ لګې درګې او بې ثباتۍ زور اخیستی دی . دعراق او افغانستان د جګړو پای لا ندی معلوم او په سراب پسې ځغاسته ده،دې وضعې دغه هیوادونه او ټوله نفت خېژه سیمه او نړۍ دیوه لوی بحران سره مخامخ کړېده . په نتیجه کې و نفتي موادو ته د لویو هیوادونو زیاته تقاضا ددې مادې نرخ د کنټرولو ایستلې او ورځ تر بلې و اسمان ته خېژي . دې وضعې دموادو په انتقالاتي بهیر کې هم جدي بدلونونه او خنډونه راوستي دي ، د امریکایي ډالر نرخ را ټیټ سوي او په راکړه ورکړه یې څوک زړه نه ښه کوي ... دغه څه ددې بحران ځیني آنې علتونه ګڼل کېدای سي چې خود بخوده په نړۍ کې د نورو بحرانو زېږنده دي .

د پرانیستي اقتصاد چلند چې د آزاد بازار پرقوانینو ولاړ دی نو نن یې و سود خورانو اوچپاولګرانوته لانوره هم موقع ورکړېده چې د هغوی په ګټه کار وکړي . د مالي سرمایې راکړه ورکړه، یعنې د سود خورانو او چپاولګرانو لخوا دسرمایې څخه د عاجلې ګټې او سود لاسته راوړنه ،احتکار د نفتو، طلا ، غنمواو وریجو بازار په ډېر بېرحمی سره متأثره کوي . په واقعیت کې دا د خوراکي موادو دلالان، سود خوران ، لوی سوداګران، نړۍ وال محتکیرین او دبورس او بازار بازیګران دی چې وچه ګټه یې په پام کې نیولې اوپر هیڅ شي سرېه نکوي .هغوی په دغه بازیو کې او هغه بې ثباتي او پخپل سرې چې له همدې کبله په نړۍ وال بازار کې را مینځته سوې ده نو هغوی د خوراکي او غذایي موادو و بورس ته مخ را اړولی دی چې هم بې درکه ګټه لري او هم ناتمامه تقاضاپکښې پرته ده .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

همدارنګه ،کله چې په امریکا کې د مالي بحران هښمه غټ بانکونه او د «ارنون » غوندي لوی شرکتونه ډېوالي کړه نو په نړۍ واله کچه به هر ځای د« تاوانیانو » خبري کېدلي خو هیچا هم به د « ګټونکو » نوم نه اخیست . مګر داسي نده چې په هره بازي کې کله چې « بایلونکي » وي نو په مقابل کې یې « ګټونکي » هم وي . دلته تاوانیان چې د لویو سرمایه دارنو په پرتله کم مایې کوچني سهم لرونکې وه را مخته سوه خو د ګټونکو درک ورک سو ، د هغوی نوم چا وا نه خیست چې دا څوک وه؟ ډیر کتونکې په دې خبره سلا دي چې ا صلي ګټونکې خو د وسلو او پوځي مهماتو د جوړولو لویي فابریکې، کارخانې او په نړی وال عرصه کې دهغوی لوی سوداګران ، دلالان او د جګړو بلونکې دي چې په ټریلیونو ډالرو معامله تا وبالا کوي او اوس هم لګیا دي همداسي یې فعاله وساتي . په دې ورځو کې ټول شاهد دي چې امریکا کله په اسیا یا افریقا یا جنوبي او مرکزي امریکې کې د خپل ګټو او ملي امنیت خبره کوي نو ددې یا هغه هیوادو د ټولنیزي پرمختیاوو، پر خپلو پښو باندي د هغوی درېدل، د ولسي پرګنو د فقر له مینځه وړل او دورځنۍ اړتیاو په تأمین او د نرخو په جګېدوکې ری نه وهي بلکه د ډېرو موډرنه، وژونکو اومخربو وسلو و تهیه کولو او د هغه د پلورلو و بازار ته مخ را اړوي اوهر ځای یې د پوځي اډو و جوېدو ته زور ورکړی دی .

اوس امریکا، اروپا او تر یوه حده پوري جاپان چې د نړۍ د سرمایه دارانو درې ګډ شریکان دي او دیوه اوبل د ګټوڅخه دفاع کوي په یوه ترټولو ناوړه اقتصادي وضعه کې لاس او پښې وهي . پر دې هیوادو باندي یوې هولناکه اقتصادي بحران سایه غوړولې ده . همدغه هیوادونه په تیره پېړۍ کې دوه ځله و همدغسي حالت ته راوتلي وه او هغه یې ازمویلی دی. په هغه وخت کې و دغسي حالت ته د سرمایه دارۍ په دننه کې عمومي بحران ویل کېدی . دداسي بحران څخه یوازنی د وتلو لار د لومړۍ او دوهمي نړۍ واله جګړو د اور بلول وه . البته هغه بحران چې پر لاري دی د تیرو بحرانو سره ورته کول به ښایي یو بدبینانه او عجولانه نظر وي . خو، خوشبینه اقتصادي کارپوهان هیله من دي چې د عادي کارو په سمبالولو سره به دا پلا دغه بحران ببله دېنه چې جدي ضرر پېښ کړي، هغه به شاته پاتي سي . اما فکټونه او واقعیتونه بیا بل څه وایي، ددې ډلي په مقابل کې یوه بله ډله نظر ورکوي چې دغه بحران به دونه ژور سي چې ان د روان نړیوال اقتصادي موډل و عمر ته به د پای ټکی ورکړي.

ډیر کتونکې د لوړي دغه ولسي خښم د لوړي د« تسونامي» په نامه یادوي . د هغوی په باور د اوسني بحران دوام او د نړۍ په پوځي برخه کې دغه اوسنی سرسام آوره لګښت چې د میلیونو انسانانو د خولې د ګولې او دهغوی د ژوند په بیه تر سره کیږي ، په نړۍ واله عرصه کې به لا زیاتي نوري لګي درګي او بحرانونه را مینځته کړي چې و یوه ورانونکي طوفان ته به لاره پرانیزي ، او دا به د ثروتمنده او د حاله وتلي هیوادونه هم وځپي . هغه وخت به وضعه نه په پنځه سوه ملیونه ډالرو بلکه په هغه ټریلیونو ډالرو هم چې همدا اوس پرپوځي مهماتو باندي لګیږي ، مهار نکړای سي .

یادونه : په دغه لیکنه کې د لوموند ډیپلوماتیک، د ګاردین ،د واشنګټن پوسټ ، کرسچن ساینس مانیتور د ورځپانو، د بي بي سي او دغه لاندي منابعو څخه کاراخیستل سوی دی.

http://www.guardian.co.uk/environment/۲۰۰۸/apr/۰۹/food.unitednation
http://www.globalpolicy.org/socecon/trade/subsidies/۲۰۰۲/۱۰stopdumping.pdf
http://www.counterpunch.org/terrall۰٤۱۷۲۰۰۸.html


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de